مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۱/۱۰

# دا دی باران ودرید

## (د فرید باراني مړینه)

### پنځمه او وروستۍ برخه

«باراني د پسرلني باران په څیر
لړه شیبه وورید او ژر ودرید»

«...لا مې په یاد نه دي چې څو بجې وې

د کوم کال کومه ورځ وه،

چېرته چې تا راته تر شا تر را وکتله

او زه مې خپلې ناکامۍ او ستومانۍ تر پښو لاندې کړمه

خداېږو زما په دې نازک پدرنعلت زړه باندې څه وشول

چې د سرک د کڼه ګونو خوبولې سترګې

لاهم د ښار له رڼا ګانو نه،

زما د مرګ پوښتنه کوي.»

د فرید باراني ژوند او فرهنګي هڅو ته په کتو سره ویلای شم چې: ده په دې لنډ او ډیر لنډ عمر کې د انسان په باب فکر وکړ، د افغان او افغانستان په باب یې فکر وکړ او په عملي ډول یې زموږ د فرهنګ د غنا له پاره دومره څه وکړل چې ځینې خلک یې په ټول اوږده عمر کې نه شي کولای؛ نو ځکه زه افغانان په تیره فرهنګي کړۍ او قلموال؛ د فرید باراني پور وړي ګڼم او دا پور تر ټولو ډیر پښتنو ته ځکه ور له غاړې دی چې باراني په همدې لنډ تنګ عمر کې پښتو ژبې او ادبیاتو ته د خپلو افکارو په خپرولو او پښتو اشعارو په تخلیق سره دومره څه ورکړل چې ډیری دعوا درلودونکي یې په خپل ټول اوږده عمر کې هم نه شي ورکولای. فرید باراني پر ټولو پښتنو او پښتو ژبې باندې حق لري چې هر کله یې یادونه وکړي، وېلمانځي او هر کله یې په ښو یادونه وشي.
فرید باراني ته به تر ټولو لومړنی خدمت دا وي چې خواره واره چاپ او ناچاپ اشعار یې را ټول او په یوه ټولګه کې چاپ کړای شي.
د فرید باراني د مرګ په پار د خپلې لیکلې مقالې په وروستۍ برخه کې غواړم د ده د کلام څو نورې بیلګې له درنو لوستونکو سره شریکې کړم، بیا نو ګوره چې څوک به، څه وخت د فرید باراني پر افکارو او اشعارو باندې څه ولیکي.
هغه څه چې ما ته د فرید باراني په باب مالوم وو او په اختیار کې مې وو، تر خپلې وسې او د خپلو تجاربو په دایره کې مې وڅیړل او پایله مې یې د همدې اوږدې مقالې په ترڅ کې له ټولو سره شریکه کړه. کیدای شي د کلام ځینې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

بیلګي يي له نورو فرهنګي دوستانو سره خوندي وي او میډیا ته راووزي، بیا نو ګوره چي د باراني نوی کلام به څه وایي او خلک به څه ډول فکر کوي.

د اوس له پاره همدومره

اروا يي ښاده او یاد يي تلپاتي

دا هم د فرید باراني د پښتو شاعری څو نوري بیلګي:

**ته رانه ځې،**

**او زما تولـه فلسفه د کائیناتو په ساړه وجود کي کنګل نیسي**

**د بخاری نه مي ساړه څڅیږي**

**او هرڅه، هرڅه خپل ارام ورکوي**

**هم حرکت، هم سکون**

**هم زما رنـګ تحمل،**

**چي مخامخ راته کښېني**

**راسره شپي تېروي**

**راته دوډی پخوي،**

**د فلسفي مي کتابونه لولي**

**او بیا زما څخه پوښتني کوي،**

**د مخ ویښتان مي خريي**

**او د قهوې ګیلاس مي مخې ته ږدي.**

**ته رانه ځې،**

**او په پخلي باندې مي**

**د دنیا اور او اوبه**

**تولي کاسي او حتی تول دیګونه**

**کټ، کټ خندا کوي، ملنډي وهي**

**ته رانه ځې،**

**او د بڅرو حرکت درېږي**

**ځمکه درېږي او د لمر ساړه هډونه له یخنی نه رپېږدي**

**ستورو کي مرګ پېښېږي**

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځیر و لولـئ

**د کهکشان سرو رګونو کې تلپاتې سکون لاره کوي.**

**ته رانه ځې،**

**زما برستنه په خپل درد تاوېږي**

**کوټه مې تبه نيسي.**

**ته رانه ځې،**

**د دنيا ټول ډاکټران**

**خپل کتابونه بيا له سره لولي.**

*****

**ما له خپل اوښکو ژړل،**

**چې سترګې سرې د هيڅ بازار تر ليونتوبه را ونه رسېدم**

**نه مې دک زړه خالي شو**

**نه مې د سر ويښتان خواره پرېښودل**

**نه مې څوک**

**او نه مې ميني لره خپله ستوماني وښوده**

**همالته پاته شومه**

**لا مې په ياد نه دي چې څو بجې وې**

**د کوم کال کومه ورځ وه،**

**چېرته چې تا راته ترشا، ترشا را وکتلې**

**او زه مې خپلې ناکامۍ او ستومانۍ تر پښو لاندې کړمه**

**خدايږو زما په دې نازک پدرنعلت زړه باندې څه وشولو**

**چې د سرک د ګنه ګوڼو خوبولې سترګې**

**لاهم د ښار له رڼا ګانو نه،**

**زما د مرګ پوښتنه کوي.**

*****



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

غړ يې شيشې غوندې و

د هر قدم لاندې يې سل مړي ـ ژوندي پراته وو

د مخ ذکات ته يې سپوږمۍ يو کال په خوله روژه وه،

غړ يې شيشې غوندې و،

راغله او زمونږ زړونه يې

کودي، کودي کړله او بېرته لاړه،

د هغې ورځې نه پس

هينداري ډېرې په مينځ دوه ځايه شوې

حنجرې ستړې شولې

خو هغه غړ بيا چا وانهورېده

مړي را پانڅېدل

سپينه سپوږمۍ يې لا تر اوسه په وېرنه کې روژه په خوله ده

او زمونږ د زړونو کودي،

کلونه وشول د الم په هديرو کې پټ دي.

*****

## دريم جهان

د بهرنيو ښامارانو کور دی،

د يوې دلې سرې چړې په لاس کې

خپلې وسلې زمونږ په وينو باندې وآزمايي

بيا مو د ټولو رسنيو مخ ته

له بمبار شوو جسدونو نه ببننه غواړي

له حوصلې مو د ايمان نري تارونه سپځي

او احساساتو ته مو سر ټيټوي.

او بله ډله د دوستۍ او خواخوږۍ په بانه

ورو نجونو ته ښوونځي جوړوي

خپاره ناورين ته د قحطۍ د کال سندره وايي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**له بغل جیب نه ږیرور پټکي لرونکي طالبان را باسي**

**او عایشي ته د وړو له جنسه پوزه د عزت نښلوي.**

**دریم جهان**

**د بهرنیو ښامارانو کور دی**

**او مونږ**

**د خپلې خاموشۍ او د خپل قهر په نیمۍ لاره کې**

**د دېرش کلن ښه راغلاست وچې او خنثی زنې یو.**

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ